

# د پتنگانو دره

د استاد محمدصدیق پسرلي شهکار بیتونه

نورچانزم صفا

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پل د رهـنما په پله که ږدي، نو هـم دیده یې ږده
پټې سترګې پټې خولې په نورو پسې سیوري ځي

(۱)

دا بیت مې د ښوونځي له وخته په ذهن کې دی، هغه مهال یې شاعر رامعلوم نه و، خو څو کاله وروسته راته څرګنده شوه چې دا رنګه شعرونه د استاد محمد صدیق پسرلي وي.

د استاد «غزلبڼ» مې څو ځله لوستی، په هر ځل لوستلو مې یې نوې دنیا موندلې ده، سږ کال چې مې بیا لوست، د ځان لپاره مې ځینې بیتونه په کتابچه کې ترې ولیکل، وروسته فکر راسره پیدا شو چې راشه کمپیوټر ته یې کړه او د انټرنټ له لارې یې تر دوستانو هم ورسوه...

(۲)

استاد پسرلی دقیق شاعر دی، حکیم شاعر دی، له کلماتو سره یې احساساتي چلند نه دی کړی. دده شعر باید درک شي...

درک د حس تعبیر او تفسیر دی...

د پسرلي صاحب شعر یوازې په حس کولو باندې نه شو راغږولی.

دده پر شعر، فکر پکار دی.

باید معنا پکې کشف شي؛ ځکه معنا ادراکي شی ده...

استاد سیوري په خبرو راوستي... د تسلې په یوه جمله پسې یې سل ځله په زړه یادونه را چڼلي دي... د چنار په وچو لاسو کې یې دعا لیدلې... د حیا په وزرونو یې د رنګونو د الوتلو روایت کړی...

او بالاخره یې شعر لیکلی دی...

ارواه یې دې ښاده وي!
مصطفی صفا
۱۳۹۵/۵/۲۰هـ ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



بڼ نه یو چې ومو غوړوي د سرسبزۍ بهار
وخت لکه د سوال لمن بې ځایه غوړولي یو
(غ:۱۱۳۷)

هره کیسه ډېره ژر خپرېږي په وزګارو کې
ښايي چې د صور شپېلۍ تر نورو لومړۍ مره واوري
(غ: ۱۱۳۰)

ژوند چې پسرلیه لا منلي یو
ښايي د پولادو چیچل پاته وي
(غ: ۱۶۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



لړ مې مدرسې ته د جلوو چې سر ور ببرته کړ
پیر د طریقت هم یو ساده ماشوم د حسن ؤ

(غ: ۹۰۰مخ)

چې مینه د انسان یې زړه کې نه شي ځایېدلای
له خدای سره د عشق پوچه دعوا یې یعنې څه؟

(غ: ۳۸۲)

پوه شــوم پســرلـیه د عــزت په لار
سر کې د لښکر ځې علم پټه خوله

(غ: ۲۰٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې را چې لاهو کړو مزاحم فکر
غم که مې غمخور لرلای غم څه و؟

(غ: ۲۲۶)

د منارونو ارتفاع له پراته سیوري پوښته
د حسن حد مگر معلوم شي په مقیاس د مینې

(غ: ۷۰۹)

دا دوه عالمه کار او مختصره زندگي
خو، حیف چې بیا هم تېره شي هدره زندگي

(غ: ٦٦٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو حیوان په ټول عالم کې سړی نه شو
دا انسان دی چې په خپله ځناور شي

(غ: ۱۷٦)

نه تنـــها نـالـه مـــو زیـــر او بـــم پـــورې تړلې ده
مـینې مو رشته په درســـت عالـم پورې تړلې ده
دوه ورځــې ژوندون دې خـــدایه دلته راکاوه ولې
یوه خـــوا، بله خـــوا یې چـې عـــدم پورې تړلې ده
څنګه به عیار کړي له شپو ورځو سره ذهن څوک
هـــره خوشـــحالي یې په یوه غـم پورې تړلې ده

(غ: ۱۲۳۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړ مقام چې هرڅه وي نامنه وي
پاڼه چې څو پورته وي ژر الـوځي

(غ: ۴۹۲)

له زړه تر ژبې پورې لاره مې وه غربو نیولې
ګیله مې هرڅو هڅوله خو په خوله رانغله

(غ: ۸۳۸)

زه به ستا د خـوږې ژبـې په وفا څـه باور وکـړم
ډېر دروغ شته چې مخونه د رښتیا په پلو نغاړي

(غ: ۸۴۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدایزده تقاضا به وه د مینې که منشا د ناز
بې له کومه جرمه لکه ستوري ځړېدلي یو
هرڅو که سپرلیه سر ترپایه اور اوبه کړو عشق
بیا هم لکه شمې خپلو پښو ته څڅېدلي یو
(غ: ۹۲۱)

هره یوه لحظه مې له بایللو فرصتونو نه
دوړه شوه د لارې په اخیستي پل کې پاتې شوه
(غ: ۹۱۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترخو چې لار وي پاتې د جرس غوندې سپرلیه
فـریاد د سـوي زړه دې تر هـغـو مـه کېنوه

(غ: ۱۱۴۳)

گومان د مــازیگر د ســــیوري مــه کــوه په مـا
چــې قـــد بــه یې د نــورو په نــگاه کې لویوم
د خـم په پښو کې رغړم که مې کین ووځي له زړه
دا یـو ثـواب په غـــبـږه د گـنـاه کـــې لـویوم
په سهـوه مې ډېر مـه نیـسه د سـوي زړه مالکه
ځــو تـانـدې تجــربــې په اشــتباه کـې لویوم

(غ: ۸۲۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوخ ماشومان کوربانه باسي د مېلمه له خونې
چې یاد دې راشي اسویلي باسمه ستا له غمه

(غ: ۸۰۴)

مـه وهـه بـېواکه چـیغې، سـر له کاڼو مه وهه
واوره به خدای ویلې کړي، آبشاره ته به پاته یې

(غ: ۷۹۱)

راغلو له عدمه، خــو په هر قدم
گورو، عدم بیا غېږه پرانیستې ده

(غ: ۷۶۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په څه هوس، په کوم هدف، د څه لپاره درومو؟
د هېرې سېمې مسافـــر، په ورکه لاره درومو
په دې ساحل کې مو د ژوند نښانې ونه ليدې
لکـــه د بحـــر څـــپې بـېرته لـــه کناره درومو
ليونې زړونه په پښو کړې د يوې منډې هوس
د برېوکي په پله بېـديا ته چې له ښاره درومو

(غ: ۹۶۲)

چې د ناز سروه مې د سترګو مخ ته ودرېده
له هغه وخته مې په زړه کې وه ولاړه چيغه

(غ: ۹۵۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه د تسلیٍ جمـــله مې گــوتـو ته رانغــلله
سل ځلې مې ستا یادونه زړه کې را چنهلي دي

(غ: ۹۸۴)

تل به لکه شـمه پـښه پر ځای سوځي
څوک مه شه گمراه په خپلو اوښکو کې

(غ: ٩٦٩)

ژبه مې شوه گونگه د جلوو بې شمـــیره ژبو ته
زه لکه د سین کاڼی د شور په منځ کې غلی یم

(غ:٩٦٠)

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کړي په بې حســو څـه اثر کيسې

خاورو ته يو عـمــر وکړې لمر کيسې

سين له تللـو پرته څه لــيدلي دي؟

درست عمر يې اورو د سفر کيسې

(غ: ۸۵۴مخ)

په مړينه مې هم نه لوېږي اوس زړه ته هوسايي

چـې ژونـد لـکه سـېلاب په اضــطراب تـېروم

(غ: ۸مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا لاره به ګوري، د وفا په انتظار به وي
سل ځلې که شنه وابښه زما له ګوره ووتل

(غ: ۷۴۶)

د ژوند پاڼې بې لوستو اړوم په دغه فکر
چې مرګ به د بل فصل ابتدا وي که به نه وي؟

(غ: ۷۳۵)

سکوت د نیمې شپې چې مې په سر اخیستی دی
آرام مې لکه سین رانه بستر اخیستی دی

(غ:۷۳۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو نفس ژوندون ته خومره لومې وي
هر پلـو چې ګورو قفس اېښی دی
(غ: ۵۸۳)

د چا د کور مخ ته به ناخي لکه زنۍ طاووس
د چا په ګور به بِدي ګلونه په زړه سترې بهار
(غ: ۱۲۴۳)

څه ځای د حیرانۍ نه دی چې ګاز هم اوبه کېږي
مــړو اوښــکو ته مــې وګوره آواز هم اوبه کېږي
(غ: ۱۲۱۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ته، تر پرتو کاڼو د لارې دوړې ښې ښکاري
نـه وینـم د پورتـه الــوتلــو زور په تیـږو کـې

(غ: ۹۳۵)

د فوارې په پله مې پیل کړ د غوښتنو سفر
په هر قدم مې بېرته پښو ته رالوېدلی یمه

(غ: ۹۳۱)

وهم د سفر د سین څپې وارخطا کړې دي
څکه بدرګه ورسره استوم یو څو اوښـکې

(غ: ۹۲۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه کې چې وکړي څوک اودس په خپلو اوښکو
لمـــونځ يې ادا کـــېږي، په ولاړو لکـــه شـــــــمه

(غ: ۸۸۹)

شور مې شاته پرېښود چې د ژوند له ښاره ووتم
پټه خـــوله لـــه ښـــاره لکـــه تللـــې لاره ووتم

(غ: ۱۰۴۹)

اوښکې يې مه گڼه سېلاب شو، د زغم بند يې يووړ
زړه کـــــې تـنهاکـــو چـــې د عـــمــر لـــه آزاره ژړل

(غ: ۱۰۳۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یوه شپه غم نه ارزي گرده ژوندون

د نیمــې لارې مــل، نامرده ژوندون

ترخــو به ځــان ورپـورې ونښــــلوو

لمــن خــنډې آخر له گرده ژوندون

(غ: ۴٦۴)

د زمـــانې بهـــیر که څه هـــم مـــخ پر وړانـدې درومي

خو ژوند یو سېل دی چې څو ځي هغومره لاندې درومي

(غ: ۴۹۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا تېرى بخښلاى نه شي مينه په درشل د ناز

خپلو بې فکريو ته چې کله د خداى کړه وايو

(غ: ٩٢٢)

څه ښويه آيينه نه يم چې هر څه دې کړم هېر

يادونه دې په زړه باندې کـــــيندلي گـرځوم

(غ: ٩٣٦)

ورک وي چـې تنها وي په اسبابو متکي خلک

چا وې چې پيدا لکــه مېرى سپکې وزرې کړه

(غ: ٦٤٨)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سلو ژبو چې سوسن په بڼ کې پټه خوله ؤ
پوه شوم د خپل ښایست نشه اخلي له ګله ژبه
دومره چې ژر ژر په هر دم په بله بله اوړي
ته وا زده کړې یې له خپل خواره وربله ژبه
که رونې اوښکې دې سپرلیه ترجماني نه شي
پټو دردونو ته لفظونه لري کله ژبه

(غ: ۴۴۲)

هیلې زړه ته راشي، خو په شمار یې کله پوه نه شوم
دا وحشي کوترې چې څو شمېرې الوتلې وي

(غ: ۵۲۶مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېر يې کړل سپرليه ظالمان په موړ

واک چې د مظلوم ګوتو ته ورغی

(غ: ۳۹۹)

د مـراد مـزله تـه هـرخـوک ورنژدې شو

يو پښتون لکه ميخ شوی ټغر پروت دی

(غ: ۷۰)

چې په خپله دې تور کـړی د خـپل آل مخ

اوس د سيوري غوندې مښه په دېوال مخ

(غ: ۵۷۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکــه آواز د آرزوګانـو په هــوا درغلــم
لکه سېلاب ببرته په خپله غاړه وړم جنازه
(غ: ۱۱۰۳)

چې د وينا فرصت يې راکړ حـــياداړو لـېمو
په غلبېل زړه کې مې يوه ګيله هم پاته نه وه
(غ: ۱۰۹۴)

د صـــحرا لوی زړه يې ساتلی شي راز
مجنون چې پټې کړې له ښاره سترګې
(غ: ۱۰۷۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library




ســـترګې د ګلـــونو مــې سحـــر واړه لنـــدې لیـدې
دا څـنګه دستور دی چې تر پېښې یې غم وړاندې وي
ځـــان ګـــڼو یـوازې چـــې د مــرګ په پــوله وخـــېژو
وبه ګـــورو مـــوږ نه به هـــم زښـــته عالـم وړاندې وي

(غ: ۱۲۷۷)

نرم زړونه بویه د لطیف حسن ساتلو ته
ډېر دې آیینې کې د ادا ګلونه وکــرل

(غ: ۸۹۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه سیوري نه یو چې غرمه تللي، ماښام راګرځي
چې مو له چا زړه لټېدلی لکه ساه تللي یو
(غ:۱۲۵۲)

که خوښ یو که ناخوښ یو ورسره شاربو به اړ یو
چې غاړې ته راولوېده تر ګوره زندګي
(غ: ۱۲۴۹)

دنیا او عقبا دواړه وي پرتې پوله پر پوله
خو دومره لږ واټن هم د کلونو مزل غواړي
(غ: ۱۲۶۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند څه وٌ؟ پس له عمره ایله اوس دومره شوم پوه
چـې اخـیستې مـې پـه خـپلو اوږو خپله جنازه وه
(غ: ۵۵۵مخ)

خیر که آباد نه شوم، مه مې کړې په خوله د بل
چېرته د پسه خپله ساه، چېرته د قصاب پوکل؟
(غ: ۳۴۲)

سـپرلـیـه داسـې غلط بینو رانـه ورکـه کـــړه لار
کوم چې پېریان ورته ښکارېږي، خو انسان نه ویني!
(غ: ۲۸۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعقوب كه په خپل زوی پسې شو ړوند عجبه نه ده

کـيسه کـوه د هــغه چـــې ولــس پســـې ړندېـږي

(غ:۱۱۲۲)

پټه خوله فرياد د زړه د زړه غوړونه ښه اوري

سوي نفـــسونه مې هم ســتړي جرسونه دي

(غ: ۱۱۱۰)

ښاڅکي د باران نه يو چې سيل شو، ځو

ســتا په لــوري خـوند کـوي تنــها سفر

(غ: ۱۲۸٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو بلې شمې به ترې وبوټېږي
د تا په غــولي کـه يو پل وکرم

(غ: ۱۲۶۲)

ښايي له خــاورو يې تر حشره زقوم وبوټوي
که مې له ځانه سره يوسم گور ته دا غمونه

(غ: ۴۵۰)

تشه دعا چې عمل نه وي غـولـول دي د ځان
د چـنار پاڼو گـورئ وچ کـړل په دعـا لاسـونه

(غ: ۱۱۳۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند یوه پېچلې معما وه، مرګ یې بله غوټه
نه څوک د مینې په راز پوه شو، نه په راز د حسن

(غ: ۸۰۸)

درست عمر مې غم نه دی سرېدو ته زړه ورکړی
بیا هم لکه دېوال د بتۍ خام پاته یمه

(غ: ۶۷۸)

له ځانه وتای نه شم، چا ته ورشم، چېرته لاړ؟
درست عمر په خپل زړه کې د آرزو پلونه وهم

(غ: ۱۱۴۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته د استغنا سما او زه د تمنا دنیا

نه پوهېږم خدایزه چې په څه سره ملګري یو؟

(غ: ۲۴۸)

مې مګر غمونه زموږ پاک په غاړه واړوي

سېل شي یو جهان خلق خاشاک په غاړه واړوي

(غ: ۷۰۳)

پردېسی چې وچه پاڼه د خزان کړم

جنازه مې مګر باد په اوږو واخلي

(غ: ۶۹۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد محمدصدیق پسرلی

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**